# د افغانستان اسلامي امارت

## لـــوړو زده کــړو وزارت

## پکـتـیـکا پوهــنـتـون

## انجنیري پوهنځی

### تاریخچه

انجنیري پوهنځی د پکتیکا پوهنتون تر چتر لاندې په (۱۳۹۹) هـ. ش کال تأسیس او په فعالیت یې پیل کړی، اوس مهال د سېول انجنیري او مهندسي دوه څانگې لري چې د یادو څانگو څخه ځوان، متدین، مسلکي، متعهد او کادري ځواک ټولنې ته وړاندې کوي.

### لیدلوری

انجنیري پوهنځی به په نږدې راتلونکې کې د اسلامي، ملي او اکاډمیکواصولو په رڼا کې د هیواد ودانیز پرمختګ د اړتیا وو او غوښتنو سره سم پوه، ژمن او مسلکي بشري ځواک په روزلو سره خپل رغنده رول اداء کړي.

### ماموریت

انجنیری پوهنځی به د یوه علمي بنسټ په توګه د اسلامي او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د پرمختللو وسایلو څخه په ګټه اخستنې د لېسانس په کچه، په اړوند څانګو کې په مسلکي پوهه او عملي مهارتونو سمبال وړ او ژمن کادرونه روزي.


Sharaee.786@gmail.com

0093778677445

Faculty of Engineering, Paktika University

پکتیکا، مرکز شرنه، ارگون ولسوالۍ عمومي سرک


### ارزښتونه

- ☑ ټولو اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی ؛
- ☑ د کادري او اداري غړو، ټولنې، پوهنتون او نورو ښــکېلو اړخونو په وړاندې د مسؤلیت او متقابل احترام اصل په نظر کې نیول؛
- ☑ د باکیفیته لوړو زده کړو وړاندې کول؛
- ☑ په کارونو کې د مشورې اصل او ملي یووالي ټینگښت په پام کې نیول؛
- ☑ اخلاق، عدالت اوکرامت؛
- ☑ اداري او ټولنیزو اصولو ته ژمنتیا او د مسؤلیت پېژندنه؛
- ☑ سالمه اداره، په هیواد او مؤسسه کې د نافذه قوانینو او مقرراتو په پام کې نیول؛
- ☑ د همکارۍ او همغږۍ پیاوړي روحیه؛

### موخې

- ☑ د تدریسي، اداري او دفتري امکاناتو محیا کول او د پوهنځي لپاره د تدریسي ودانۍ جوړول؛
- ☑ علمي څېړنو، مطالعاتو او ابتکاراتو ته پوره پاملرنه او وده ورکول؛
- ☑ د هیواد او سیمې اړتیا ته په کتلو د دوه ( جیولوجي معدن او برق ) څانگو ایجاد ؛
- ☑ غوره اداره او رهبري، د عایداتي سرچینو پیداکول، اصلاحات او د فساد مخنیوی؛
- ☑ د الکترونیکي زده کړو پراختیا او د HEMIS سیستم په بشپړه توگه تطبیقول؛
- ☑ د پرمختللي نصاب تطبیق کول؛
- ☑ په هیواد کې د ټولو نافذه قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو تطبیق او د پوهنځي په سطحه د مختلفو تقنیني مستنداتوتدوین، تعدیل او تطبیق ؛
- ☑ د کادري او اداري کارکوونکو تشکیل، ظرفیت او مهارتونو لوړول؛
- ☑ د مؤسسې له ټولو داخلي او بهرنیو اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو نهادونو سره د اړیکو ښه والي او د ټولنې په پرمختګ کې فعاله ونډه اخیستنه؛
- ☑ د کیفیت لوړاوي په موخه دپوهنځي له درسي او اداري چارو څخه نظارت او ارزونه کول ؛
- ☑ د انجنیري پوهنځي لپاره د فزیکي او ډیجیټل غني کتابتون جوړول ؛
- ☑ د پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت موخې تعقیبول ؛

### د انجنیري پوهنځی تشکلاتي جوړښت

**پوهنځي ریاست**

**د سیول انجنیري څانګه**

- ن. پوهنیار محمد قسیم صادق
- پوهنیار میرزمان دقیق
- نوماند پوهنیار محمد عمر مسرور
- نوماند پوهنیار عثمان خلیل زوی
- نوماند پوهنیار حکم خان اتل
- نوماند پوهنیار محمد فاروق عظیمی

**د مهندسي څانګه**

- ن. پوهنیار هدایت الله حیدری
- پوهنیار محمد عارف عابد
- نوماند پوهنیار لعل محمد شینواری
- نوماند پوهنیار استاد
- نوماند پوهنیار استاد

- تدریسي لوی مدیریت
- اجرائیه مدیریت
- لابرانټ مدیریت

### د پوهنځي د رئیس پیغام

الحمد لله رب العلمین والصلواة والسلام علي المبعوث رحمة للعلمین سیدنا محمد خاتم الانبیاء والمرسلین صلی الله علیه وسلم وعلی اله وصحبه اجمعین و من تبع هـداه بإحسان الي یوم الدین وبعد؛

د پکتیکا پوهنتون د انجنیري پوهنځي اداره دا هدف لري چې په دې علمي بنسټ کې زموږ ځوان نسل د اسلامي، ملي او علمي اصولو پر بنسټ داسې وروزي چې هم پوهه ولري، هم استعداد، او هم خپل وطن ته ژمنتیا.

انجنیري پوهنځی هڅه کوي چې د ښه تدریس، څېړنو او مسلکي خدماتو له لارې ټولنې ته داسې روزل شوي کسان وړاندې کړي چې د هیواد د پرمختګ او ابادۍ لپاره کار وکړي. دلته محصلین هڅول کېږي چې د ننني نړۍ ستونزې ښې وپېژني، معقول تحلیل یې وکړي، او د نوې تکنالوژۍ په مرسته د انجنیري اصولو مطابق یو ښه، ارام او پرمختللی چاپېریال رامنځته کړي.

په پای کې د انجنیري پوهنځي له ټولو با احساسه علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو څخه مشکوریم چې د پوهنځي د چارو په پرمخ وړلو کې یې برخه لرلې ده. متعال څښتن (جل جلاله) دي د هغوی ټولو خدمتونه قبول کړي .

د انجنیري پوهنځي د پرمختګ او بریا په هیله!

په درنښت

انجنیر گل محمد شرعي

د انجنیري پوهنځي رئیس